شیرمحمد امیني ستانکزی ۲۰۱۷/۰۸/۰۵

# زده کړه او مطالعه

زده کړه او مطالعه دانسان دتیاری لپاره ستره ډیوه ده، چې دپرمختګونو لاروې ته دمزلونو لاربنوونه کوي، د زدکړې په توسعه دماغ او ذهن پیاوړی کیږي. دځمکي پر سر کوم اختراعات او تکنالوژیکي جوړوني چې شتون لري، دهمدې زده کړې له امله ترسره شوي او کیږي.

نو داسلام ستر لاربنود حضرت محمد(ص) زده کړه پر ټولو نارینه او ښځینه مسلمانانو فرض ګڼلې دی، موږ مسلمانان باید چې دخپل ستر لاربنود حضرت محمد(ص) لاربښوونو باندې عمل وکړو او دزده کړو دروازې په ټولو نارینه او ښځینه و باندې پرانیزو. ځکه چې مخکې یادونه وشوه، دهمدې زده کړو په بنسټ هر څه ترسره کیدای شي.

کوم هیوادونه چې د پردیو له احتیاج څخه خلاص او دخپلو کورنې تولیداتوباندې بسنه کوي، هغوی داسې لټې پرځان ندی قبوله کړې، بلکې زحمتونه یې ګاللي، پخپلو اولادونو یې تعلیم کړی او خپل ذهنونه یې په کار اچولي، ترڅو داسې جوړوني او اختراعات ولري، چې نن ورځ ټول موږ یې په سترګو وینو او ګټې ترینه اخلو.

دا پرمختللې تکنالوژي طبیعي ندی رامنځته شوي، بلکې دا دانسانانو دتفکراو لاسونو په برکت جوړ شویدي. داسې هم ندې، چې دغه پرمختللې او عصري تکنالوژي دوی له خپلو خیټو جوړې کړي وي، بلکې کلونه کلونه د زده کړو او تجربو دترلاسه کولوله کبله رامنځته کړې دي.

د پرمختللو وسایلو جوړول عادي کار ندی، چې څوک وغواړي جوړ یې کړي، دا یو لړ تجربو او څیړنو ته اړتیا لیدل کیږي.

دخدای تعالی په مخلوقاتو سرې چې فکر وکړې خامخا دانسان مغز وده کوي او بیا دخپلو تجربو په کارولو هڅه کوي، چې یو څه جوړ او رامنځته یې کړي او دخدای (ج) په مخلوقاتو فکر کول په عبادتونو کې هم حسابیږي.

افغانستان چې یو ورسته پاتې هیواد دی، د پوهې کچه ټیټه بنودل شوې، ځکه دجهالت تورې تیارې له مینځه ورل؛ په علم او پوهې ترسره کیږي، خو په افغانستان کې چې څولسیزې جګړې وی، هغه دبې علمی له امله زموږ په هیواد را تپل شوې وې. که چیرې زموږ په خاوره کې د زده کړو کچه لوړه وای، نو ولې به مو یو بل دپردیو په لمسون او خبرو وهل او ټکول، چې ستره بیلګه یې په هیوادکې د څوکلونو جنګونه بنودلای شو.

اوس چې په هیواد کې کومه نانډرۍ اوبدبختې روانه ده، هغه هم دیو لړ ناپوهو کسانو چې دجهالت په کنده کې ژوند ته دوام ورکوي رامنځته شویدي، چې باید ددې بدبختیو مخنیوی وشي، ځکه چې په دې ورستیو وختونو کې په ګران هیواد کې دعلم او پوهې شعلې یو څه رڼایي خورې کړیدې، چې دغه رڼاوې مرې نشي، خو که مخنیو ی یې ونشي دمرو کیدو امکان یې شته ځکه په پښتو کې یو متل ده . وایي، چې اوبو ختې کړه کبان پکې نیسه .

نو زموږ ګاونډي هیوادونه دځینوغولول شوو افغانانو پر لاس غواړي، چې په هیواد کې ترتله بدبختې او جنګونه دوام ومومي، ترڅې چې زموږ دهیواد ګټې همدغو هیوادونو ته لاړې شي او دافغانستان په ملي ګټو خپلو میلو او چرچو ته دوام ورکړي.

نو راځئ ، چې ددغو بدبختیو دله منځه وړلو لپاره ستره مبارزه له ځانه پیل کړو، دعلم اوزده کړې مشالونه دهیواد لرو او پرتو سیموته ورسو، دهیواد د ولسونو ترمنځ د زده کړې او مطالعې فرهنګ ته وده وروبښو، خپل بچیان مو تعلیم لوړې ته وهڅو . که څوک وغواړي، دخپل هیواد دپرمختګ شاهد واوسي، نو یواځینی لاره شته، چې هغه دعلم او زده کړومشالونه دي، چې له دې برکته به ژر تر ژره په هیواد کې دنفاق، وررو وژنې او ویجاړیو کرغیړن تغر ټول شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غیر و لولئ

خو داسي زده کړه ؛ نه، چې ورسره احساس د هیواد پالني نه وي، بلکې علم ترلاسه کول په عمل کې پیاده کول دایو ضروري کار دی، چې دخلکو لپاره دخیر او برکت سبب وګرزي. که تش په نوم علم ترلاسه کوو او عمل نه وي، خو دا مانا ورکوي، چې په څلورو پښو حیوان باندې کتابونه بار وي.

لوستو ځوانانوته دویلو خبره ده، چې دخپلو ترلاسه کړو زده کړو باندې بسنه ونکړي، بلکې دکار پر مخوړلو کې عملي بڼه ورکړي، نورو مطالعو ته مخه کړي، دبې ځایه وخت تیرولو او بې ځایه ګرځیدو لپاره دې علمي او اکادمیکو ځایونو ته دمطالعې په موخه ورشي او لوست وکړي. نو دلوست او مطالعې دترسره کولو له امله ډیر څه به زده کړي او نورهم فکرونه یې لا وده او په کارونو کې به یې پرمختګ رامنځته شي.

دغه کلتور په ټولنه کې هغه وخت پلي کیدای شي، چې لوستي ځوانان ، دجوماتونو ملاامامان، سپین ږیري اوښوونکې د عامه پوهاوي له لارې دمطالعې او لوست دګټو او ارزښت په اړه خلکو ته معلومات ورکړي او په ټولنه کې خلک دمطالعې لورې ته تشویق کړي.

نو راځئ، چې د پرمختګ لاره غوره کړو، دبدبختیو لومې له هیواده څخه ټولې کړو دافغانستان نوم د یوبا ثباته او علم پاله هیواد په نوم دنړۍ دهیوادونو په لومړۍ درجه کتار کې ودریږي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ